# د هوشع نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

د هوشع نبي ژوند او د هغه کتاب د خپلو خلکو سره د خدای مینه ښرګندوي. د کتاب لومړني درې فصلونه د هوشع په ژوند کې د یوې بې وفا ښځې سره د واده بیان دی. د کتاب په پاتې برخه کې هغه پيغامونه شامل دي چې د خدای دغه نبي د میلاد نه مخکې په ۷۲۲ کال کې د سامریې د سقوط څخه مخکې چې د اسراییلو پایتخت ؤ، په شمالي حکومت کې خلکو ته وعظ کاوه.

د هوشع په زمانه کې د اسراییلو زیات خلک شتمن وو، خو بیاهم هغوی ناشکري کوله او د غریبو خلکو سره یې د مرستې کولو څخه ډډه کوله. په اسراییلو کې بت پرستي زیاته شوې وه او خلکو ورو ورو د ربښتینی خدای په عبادت کولو کې غفلت او بې پروایي کوله. هوشع د خدای په حکم د یوې ښځې سره واده وکړ چې د هغه سره یې بې وفایي وکړه. دا د خدای په وړاندې د اسراییلو د بې‌وفایۍ یو مثال ؤ. لکه څنګه چې د هغه ښځې جومر د هغه سره خیانت وکړ، نو د خدای غوره شوي قوم هم د خدای سره خیانت وکړ او د هغه عبادت یې پرېښود. نو له دې امله خدای اسراییلیان محکوم کړل او د هغوی د زوال او سقوط اعلان یې وکړ. خو په پای کې به د خدای تلپاتې مینه بریالۍ شي او هغه به یوځل بیا د اسراییلو قوم بېرته د خپل ځان خواته راوګرځوي او اړیکې به بېرته جوړې کړي. خدای د اسراییلو دپاره خپله تلپاتې مینه په دې خبرو سره بیانوي: «ای اسراییلو، زه څنګه کولای شم چې تاسو پرېږدم؟ زه څنګه کولای شم چې تاسو چا ته تسلیم کړم؟» (۱۱: ۸)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو لست:

د هوشع واده او د هغه کورنۍ: ۱– ۳ فصلونه
د اسراييلو په خلاف د هوشع پيغام: ۴ــ ۱۳ فصلونه
د خلکو توبه او د خدای وعده: ۱۴ فصل

۱ ۱ دا هغه پيغام دی چې څښتن د بيري زوی هوشع ته په هغه وخت کې ورکړی ؤ چې عزيا، يوتام، آحاز او حزقيا د يهودا پاچاهان وو او د يهوآش زوی يروبعام د اسراييلو پاچا ؤ.

## د هوشع ښځه او اولادونه

۲ کله چې څښتن د لومړي ځل دپاره د هوشع په وسيله د اسراييلو سره خبرې وکړې، هغه ورته وويل: «لاړ شه او د يوې ښځې سره واده وکړه او هغه به يوه بې‌وفا ښځه وي او ستا اولادونه به هم د هغې په شان وي. په همدې ډول زما قوم هم بې‌وفا شوی دی او زه يې پريښی يم.»

۳ نو هوشع د يوې ښځې سره چې نوم يې جومر ؤ او د دبلايم لور وه، واده وکړ. هغه اميدواره شوه او زوی يې پيدا شو. ۴ نو څښتن هوشع ته وويل: «په هغه باندې يزرعيل نوم کېږده، ځکه چې زه به ډېر زر د اسراييلو پاچا ته د هغو قتلونو په خاطر سزا ورکړم چې د هغه نيکه ييهو پاچا په يزرعيل کې کړي دي. زه به د اسراييلو شاهي خاندان له منځه يوسم. ۵ په هغه ورځ به زه د يزرعيل په دره کې د اسراييلو نظامي قدرت له منځه يوسم.»

۶ جومر يوځل بيا اميدواره شوه او دا ځل يې يوه لور پيدا شوه. څښتن هوشع ته وويل: «په هغې باندې لوروحامه يعنې ‹په چا باندې چې رحم نه وي شوی› نوم کېږده، ځکه چې زه به نور د اسراييلو په خلکو باندې رحم نه کوم او نه به هغوی وبخښم. ۷ خو زه به د يهودا په خلکو باندې رحم وکړم. زه څښتن چې د هغوی خدای يم، نو هغوی به وژغورم، خو زه به دا کار د جنګ، تورو،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لیندو، غشو، اسونو یا په اسونو باندې په سپرو خلکو باندې ونه کړم.»

٨ کله چې جومر خپله لور لوروحامه له تي نه بېله کړله، نو هغه بیا امیدواره شوه او بل زوی یې
پیدا شو. ٩ څښتن هوشع ته وویل: «په هغه باندې لوعمي یعني ‹زما قوم نه دی› نوم کېږده،
ځکه چې د اسراییلو خلک زما خلک نه دي او زه د هغوی خدای نه یم.»

## د اسراییلو بیا ابادېدل

١٠ خو د اسراییلو خلک به د سیند د شګو په شان دومره زیات شي چې څوک به یې شمېرلی نه
شي. اوس خدای هغوی ته وایي: «تاسو زما قوم نه یئ» خو یوه ورځ به راشي چې هغه به ورته
ووایي: «تاسو د ژوندي خدای اولادونه یئ!» ١١ نو د یهودا او اسراییلو خلک به بیا سره یوځای
شي. هغوی به د خپل ځان دپاره یو مشر وټاکي او یوځل بیا به د هغوی شمېر په خپل وطن کې
زیات او نېکمرغه شي. هو، دا به د یزرعیل د سیمې دپاره یوه لویه ورځ وي!

٢ ١ نو خپل اسراییلي ورونه عمي یعني «زما قوم» او خپلې خویندې روحامه یعني «چې په
چا باندې رحم شوی وي» وبولئ.

## بې‌وفا جومر د بې‌وفا اسراییلو یو مثال دی

٢ څښتن داسې وایي: «ای زما اولادونو، خپله مور یعني اسراییل ورټېئ، ځکه چې هغه نوره زما
ښځه نه ده او زه د هغې مېړه نه یم. هغې ته ووایئ چې زناکاري او بدلمني پرېږدي. ٣ که نه، نو
زه به هغه داسې لوڅه لغړه کړم، لکه څنګه چې د پیدا کېدلو په ورځ لوڅه لغړه وه. زه به هغه د وچې
او شاړې ځمکې په شان کړم او هغه به د تندې له لاسه مړه کړم. ٤-٥ د هغې په اولادونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې به رحم ونه کړم، ځکه چې د هغې مور زنا کړې ده او هغوی د یوې بې‌شرمې فاحشې
اولادونه دي. هغې خپله ویلي دي: ‹زه به خپلو عاشقانو ته ورشم، هغوی ماته خواړه او اوبه، د وړیو
او کتان کالي، د زیتونو تېل او شراب راکوي.›

۶ نو زه به د هغې لاره د اغزیو په بوټو باندې بنده کړم او یو دېوال به جوړ کړم چې هغه ونه شي
کولای خپله لاره پیدا کړي. ۷ هغه به خپلو عاشقانو پسې منډې وهي، خو هغوی ته به
وررسېدلی نه شي. هغه به خپلو عاشقانو پسې ګرځي، خو هغوی به نه شي پیدا کولای. نو بیا به
وايي: ‹زه بېرته خپل لومړني مېړه ته ځم، ځکه چې زما دپاره د اوس نه هغه وخت ډېر ښه ؤ.›

۸ هغه په دې نه پوهېدله چې زه هغه ذات یم چې هغې ته مې غلې دانې، شراب، د زیتونو تېل او
ډېر سپین او سره زر ورکول، خو هغې ورځخه د بعل بت ته د عبادت کولو دپاره کار اخیسته. ۹
نو زه به د حاصلاتو د راټولو په وخت کې د هغې نه د غلو دانو او شرابو نعمتونه بېرته واخلم او ما
چې د کالیو دپاره ورته کومې وړۍ او کتان ورکړی ؤ، ترڅو هغه لوڅه پاتې نه شي، هغه به هم
ورځخه بېرته واخلم. ۱۰ نو زه به هغه د خپلو عاشقانو په مخکې لوڅه کړم او هېڅوک به یې زما
ځخه خلاصولی نه شي. ۱۱ زه به د هغې ټولې خوشحالۍ، د هغې کلني او میاشتیني اخترونه او د
هغې د سبت د ورځې جشنونه یعنې د هغې ټولو اخترونو ته د پای ټکی کېږدم. ۱۲ زه به د هغې د
انګورو تاکونه او د انځرو ونې چې هغې به ویل چې عاشقانو به یې ورته د خدمتونو په بدل کې
ورکول، له منځه یوسم. زه به د هغې د انګورو تاکونه او د مېوو باغونه په ځنګل باندې بدل کړم او
ځنګلي ځناور به د هغه مېوه وخوري. ۱۳ زه به هغې ته د هغو اخترونو په خاطر چې زه یې په
کې هېر کړی وم او د بعل بتانو ته به یې خوشبويي سوځولې او خپلو عاشقانو ته د ورتګ په وخت
کې به یې ګاڼې اچولې، سزا ورکړم.» څښتن داسې ویلي دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل قوم سره د څښتن مينه

۱۴ نو زه څښتن به هغه یوځل بیا په مینه راګېره کړم او دښتې ته به یې بوځم او په خوږو خبرو
سره به د هغې زړه بېرته لاسته راوړم. ۱۵ هغې چې د انګورو کوم تاکونه لرل، هغه به ورته بېرته
ورکړم او د هغې دپاره به د عخور دره یعنې «د مصیبت دره» د هیلې په دروازې باندې بدله کړم.
هغه به زما خبره هماغه شان مني، لکه څنګه چې یې د ځوانۍ په وخت کې کله چې د مصر څخه
راوتله، زما خبره منله.

۱۶ څښتن وايي چې په هغه وخت کې به بیا ماته خپل مېړه ووايي او نور به ماته خپل بعل یعنې
بادار نه وايي. ۱۷ زه به هېڅکله هغه پرېنږدم چې په خپله خوله باندې د بعل د بتانو نوم واخلي او
هغه به نور په یاد نه ساتي. ۱۸ په هغه وخت کې به زه د ټولو ځنګلي حیواناتو او د هوا د مرغانو
او خزندو سره یو لوظ وکړم، ترڅو هغوی زما قوم ته زیان ونه رسوي. زه به د هغه وطن نه توري او
لیندې ورکې کړم او خپل قوم به پرېږدم چې په ارامۍ او امن سره خپل ژوند وکړي.

۱۹ څښتن وايي:

ای اسراییله، تا نه به جوړه کړمه خپله ښځه

او زه به دې خپله کړمه تل دپاره

زه به رښتینی او عادل اوسم

زه به کوم درسره تلپاتې مینه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او رحم به کړم درسره

۲۰ زه به تاته وفادار یمه

او تا به کړم زه خپله ښځه

او ما به وپېژنې ته د څښتن په توګه

۲۱-۲۲ څښتن وايي:

په هغه وخت کې به قبولې دعاګانې کړمه

زه د خپل قوم اسراییلو

زه به باران واوروم په ځمکه باندې

او پیدا کېږي به په هغې ځمکه کې

غلې دانې، شراب او د زیتونو تېل

۲۳ هغه وطن کې به مېشت کړمه خپل قوم

او کړم به نېکمرغه هغوی

مینه به وکړم هغو خلکو سره چې یادېدل به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې نوم «چې رحم نه وي شوی چا باندې»

او هغو خلکو ته چې يادېدل به «زما قوم نه دی»

ورته به وايمه زه چې «زما قوم يئ تاسو»

او هغوی به راکړي ځواب چې «ته يې خدای زمونږه»

## هوشع او بې‌وفا ښځه

۳ ۱ څښتن ماته وويل: «يوځل بيا لاړ شه او هغې ښځې ته خپله مينه وښايه چې د خپل
عاشق سره زنا کوي. د هغې سره به داسې مينه کوې لکه څنګه چې زه يې د اسراييلو د خلکو سره
کوم، که څه هم هغوی نورو خدايانو ته اووښتي دي او بتانو ته د مميزو د کلچو نذرانې وړاندې کول
خوښوي. ۲ نو ما هغه ښځه د سپينو زرو په پنځلسو سکو او يوسلو پنځوسو کيلوګرامه اوربشو
باندې واخيستله. ۳ ما هغې ته وويل چې ته به د ډېر وخت دپاره زما په کور کې اوسېږې او
فاحشه‌توب به نه کوې او د هېچا سره به جنسي اړيکې نه ساتې، حتی زما سره هم نه. ۴ په
همدې ډول به د اسراييلو خلک د زيات وخت دپاره بې له پاچاهانو او مشرانو، قربانيو او د تيږو
ستنو، د کاهنانو او کورني بتانو چې د فال کتلو دپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي، ژوند تېروي. ۵
خو هغه وخت به راشي چې د اسراييلو خلک به يوځل بيا خپل څښتن خدای او د خپل پاچا داود
اولادې ته راوګرځي. په اخره زمانه کې به هغوی له وېرې د څښتن حضور ته راځي او د هغه ښه
نعمتونه به لاسته راوړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ښبټن د اسراييلو خلک ملامتوي

۴ (۱) ای د اسراييلو خلکو، د ښبټن خبرو ته غوږ ونيسئ. ښبټن د دې وطن په اوسېدونکو
باندې تور لګوي، ځکه چې په دې وطن کې نه وفاداري شته، نه مينه او دا خلک خدای نه پېژني.
(۲) هغوی په نورو باندې لعنت وايي، دروغ وايي، قتل کوي، غلا کوي او زنا کوي. جرمونه
زياتيږي او د يو قتل پسې بل قتل کيږي. (۳) نو له همدې امله به دا ځمکه وچه شي او هر ژوندی
موجود، ټول ځنګلي حيوانات، مرغان او حتی ماهيان به هم مړه شي.

## ښبټن کاهنان ملامتوي

(۴) ښبټن وايي: «هېڅوک دې په خلکو باندې تور نه لګوي او نه دې هغوی ملامتوي. زما ګيله
ستاسو کاهنانو څخه ده. (۵) تاسو او پيغمبران شپه او ورځ خطاګانې کوئ. زه به ستاسو مور يعنې
اسراييل تباه کړم. (۶) زما قوم تباه دی، ځکه چې هغوی ما نه پېژني. تاسو کاهنانو زما د پېژندلو
نه انکار کړی دی، نو زه به تاسو د خپلو کاهنانو په توګه ونه پېژنم. څرنګه چې تاسو زما قوانين هېر
کړي دي، نو زه به هم ستاسو اولادونه هېر کړم.

(۷) هرڅومره چې تاسو کاهنان زياتيږئ په هماغه اندازه زما په وړاندې ستاسو ګناهونه زياتيږي،
نو زه به ستاسو عزت په بې‌عزتی باندې بدل کړم. (۸) کله چې خلک خپلې سوځېدونکې نذرانې
راوړي، نو تاسو کاهنان ورباندې ځانونه مړوئ. کله چې خلک ګناه کوي، نو تاسو کاهنان
خوشحالېږئ. (۹) کوم کارونه چې تاسو کاهنان يې کوئ، نو خلک يې هم کوي او تاسو دواړو ته
به د هغوی د بدو عملونو سزا درکړم. (۱۰) تاسو به د قربانيو نه خپله برخه خورئ، خو بيا به هم
وږي يئ. تاسو به زناکاري کوئ خو اولادونه به مو نه پيدا کيږي، ځکه چې زه مو پريښې يم. (۱۱)
د نورو خدايانو پيروي کول او شراب ښبنل که نوي يا زاړه وي، زما د خلکو عقل له منځه وړي!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## څښتن د اسراييلو د بت پرستۍ غندنه کوي

۱۲ زما خلک د لرګي د بتانو سره مشوره کوي! هغوی فکر کوي چې هغه د لرګي امسا کولای
شي هغوی ته د راتلونکې په هکله يو څه ووايي! لکه د يوې فاحشې ښځې په شان چې بې لارې
کيږي، دوی خپل ځانونه نورو خدايانو ته سپارلي دي او زه يې پرېښی يم. ۱۳ هغوی د غرونو په
سرونو کې قربانۍ وړاندې کوي او په غونډيو، د څېړۍ ، سپېدار او چنار د ونو لاندې خوشبويۍ
سوځوي، ځکه چې ښايسته سيوری لري! نو له دې امله ستاسو لورګانې فاحشې شوې او ستاسو
انږورګانې زنا کوي. ۱۴ خو زه ستاسو لورګانو او انږورګانو ته د بدلمنتوب په خاطر سزا نه ورکوم.
ځکه چې سړي د بتخانې فاحشو ته ورځي او د هغوی سره په زيارتونو کې قربانۍ وړاندې کوي.
لکه چې يو متل دی: ‹کوم خلک چې عقل نه لري هغوی به تباه کيږي.›

۱۵ که څه هم تاسو اسراييليان زنا کوئ، خو د يهودا د ګناه سبب مه کيږئ. جلجال يا بيت‌آون ته
د عبادت دپاره مه ځئ او هلته د ژوندي څښتن په نوم قسم مه خورئ. ۱۶ د اسراييلو خلک د
غويي په شان سرتمبه خلک دي. ايا څښتن کولای شي چې هغوی لکه د وريو په شان په
څړځايونو کې ماړه کړي؟ ۱۷ د اسراييلو خلک د بتانو سره يوځای شوي دي. پرېږده چې هغوی
په خپله لاره روان وي. ۱۸ کله چې هغوی زيات شراب وڅښي، نو فاحشو پسې ورځي او د
عزت څخه بې‌عزتي غوره ګڼي. ۱۹ هغوی به داسې ورک شي لکه باد يې چې يوسي او بتانو ته د
قربانيو په وړاندې کولو باندې به وشرميږي.»

## د اسراييلو او يهودا د سزا ورځ راروانه ده

۵ ۱ څښتن وايي: «ای کاهنانو، دې ته غوږ ونيسئ! ای د اسراييلو مشرانو، پام وکړئ! ای د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاهي کورنۍ خلکو، واورئ! نو اوس به ستاسو په هکله قضاوت کيږي! ځکه چې تاسو بتانو ته په
عبادت کولو سره خلک د مصفه په ښار کې په دام او د تابور په غره کې په جال کې راګير کړي دي.
۲ ای سرکښه خلکو، تاسو په کنده کې د قربانۍ دپاره ډېر حلال کړي دي، نو زه به تاسو ټولو ته
سزا درکوم. ۳ زه اسراييل پېژنم او هغه زما نه خپل ځان نه شي پټولی. هغې بتانو ته په عبادت
کولو سره خپل ځان لکه د فاحشې په شان ناپاکه کړی دی.»

۴ خلکو چې کوم بد عملونه کړي دي، هغه خدای ته د دوی د بېرته راګرځېدلو مخنيوی کوي.
هغوی په سختې بت‌پرستۍ کې راګير شوي دي او هغوی څښتن نه پېژني. ۵ د اسراييلو د خلکو
غرور د هغوی په خلاف شاهدي ورکوي. اسراييل د خپلو ګناهونو له امله تيندکونه خوري او د يهودا
خلک هم ورسره غورځيږي. ۶ هغوی خپلې رمې او پادې وړي چې څښتن ته يې د قربانيو په
توګه وړاندې کړي، خو هغوی څښتن نه شي موندلی، ځکه چې هغوی يې پريښې دي. ۷ هغوی
د څښتن سره بې‌وفايي کړې ده. هغوی چې کوم اولادونه راوړي دي، هغه حراميان دي. نو اوس به د
نوې مياشتې نه مخکې هغوی او د هغوی ځمکې زر له منځه لاړې شي.

## څښتن اسراييلو او يهودا ته خبرداری ورکوي

۸ په جبعه کې د جنګ سرنی ووهئ! په رامه کې د خطر زنګ ووهئ! په بيت‌آون کې د جنګ
نارې ووهئ! ای د بنيامين خلکو، جنګ ته لاړ شئ، مونږ درپسې يو. ۹ ای د افرايم خلکو،
ستاسو د سزا ورځ راروانه ده او ټول به تباه شي. کوم څه چې ما د اسراييلو قبيلو ته ويلي دي، هغه
به په رښتيا سره پېښ شي!

۱۰ څښتن وايي: «د يهودا مشران د هغو خلکو په شان دي چې د جايداد د حد نښه بېځايه کوي.
نو زه به خپل قهر لکه د سېلاب په شان په هغوی باندې نازل کړم. ۱۱ په اسراييلو باندې ظلم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کيږي او د هغوی په هکله سخت قضاوت شوی دی، ځکه چې هغوی په دې ټينګار کاوه چې د
بې ګټو بتانو عبادت وکړي. ۱۲ زه به لکه د چينجي په شان چې وړی له منځه وړي، د اسراييلو
خلک تباه کړم او د يهودا کور به لکه د لرګي په شان خوسا کړم.

۱۳ کله چې اسراييلو خپله ناروغي او يهودا خپل زخمونه وليدل، نو اسراييل آشور ته لاړل چې د
لوی پاچا نه مرسته وغواړي، خو هغه ونه شو کولای چې د هغوی علاج وکړي او يا يې زخمونه
روغ کړي. ۱۴ خو زه به د اسراييلو په خلکو او يهودا باندې لکه د زمري په شان حمله وکړم. زه
به په خپله هغوی ټوټې ټوټې کړم. زه به هغوی راکاږم او هېڅوک به نه شي کولای چې هغوی
راځخه خلاص کړي.

۱۵ زه به تر هغه وخته پورې خپل قوم پرېږدم، ترڅو پورې هغوی په خپلو ګناهونو باندې اقرار
وکړي او ما ته راوګرځي. کله چې په هغوی باندې مصيبت راشي، نو زما د پيدا کولو هڅه به
وکړي.»

## د خلکو رياکارانه توبه ويستل

۶ ۱ خلک وايي: «راځئ چې د ښښتن خواته راوګرځو! هغه مونږ ټوټې ټوټې کړي يو، خو
اوس به مونږ روغ کړي. هغه مونږ زخمي کړي يو، خو اوس به زمونږ په زخمونو باندې پټۍ کېږدي.
۲ په ډېر کم وخت کې به هغه مونږ ته نوی ژوند راکړي او مونږ به راپورته کړي، ترڅو د هغه په
حضور کې ژوند وکړو. ۳ راځئ کوښښ وکړو چې هغه وپېژنو. لکه څنګه چې دا يقيني ده چې
لمر راخېژي، نو هغه به هم لکه د باران په شان مونږ ته راشي، لکه څنګه چې د پسرلي باران ځمکه
اوبه کوي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ خو څښتن وايي: «ای د اسراييلو او يهودا خلکو، زه ستاسو سره څه وکړم؟ تاسو چې ما سره
کومه مينه کوئ، هغه د سهار د لړو او دوب په شان ډېر زر ورکيږي او هغه د هغې پرخې په شان ده
چې سهار وختي له منځه ځي. ۵ له همدې امله ما خپل پيغمبران درلېږلي دي چې تاسو ټوټې
ټوټې کړي، ترڅو زما پيغام تاسو ته ستاسو د تباهۍ دپاره دررسوي. زما قضاوت به لکه د برېښنا
په شان راځي. ۶ زه ستاسو نه وفاداري غواړم، نه قرباني. زه ستاسو نه سوځېدونکې نذرانې نه
غواړم، بلکې زه دا غواړم چې خلک ما وپېژني.

۷ خو هغوی لکه د آدم په شان زما لوظ مات کړ او هلته هغوی زما سره بې‌وفايي وکړه. ۸
جلعاد هغه ښار دی چې د بدکاره خلکو څخه ډک دی او هرې خواته په کې وينه پرته ده. ۹
کاهنان د هغو لوټمارانو په شان دي چې کوم چاته په کمين کې ناست وي. حتی هغوی د شکيم د
پناه اخيستلو ښار په لاره کې قتلونه کوي. هغوی دا ټول بد کارونه په قصدي توګه کوي! ۱۰ ما په
اسراييلو کې ډېر هيبتناکه کارونه ليدلي دي. زما خلکو بتانو ته په عبادت کولو سره خپل ځانونه لکه
د فاحشو په شان ناپاکه کړي دي.

۱۱ خو ای د يهودا خلکو، ما تاسو ته هم د سزا ورکولو دپاره وخت ټاکلی دی.»

۷ ۱ څښتن وايي:«کله چې زه وغواړم خپلو خلکو اسراييلو ته روغتيا ورکړم او هغوی يوځل
بيا نېکمرغه کړم، نو د اسراييلو د خلکو بدکاري به ښکاره شي او د سامريې د خلکو بد عملونه به
څرګند شي. هغوی يو د بله سره ټګي کوي. د خلکو په کورونو باندې وراوړي او غلاګانې کوي او
په کوڅو کې خلک لوټ کوي. ۲ هغوی په دې نه پوهيږي چې د هغوی ټول بد عملونه ماته په
ياد دي، خو هغوی په خپلو ګناهونو کې راګير شوي دي او زه هغه ټول په خپلو سترګو وينم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په ماڼۍ کې دسیسه

۳ ښتن وايي: «خلک په خپلو بدو کارونو باندې پاچا خوشحالوي او په خپلو بدو دسیسو
باندې مامورين غولوي. ۴ هغوی ټول خاينان او بې‌وفا دي. د هغوی د شهوت لمبې د تنور د هغه
اور په شان دي چې نانوای بل ساتلی دی، تر هغې چې خميره د پخولو دپاره تياره شوې نه وي.
۵ په کومه ورځ چې پاچا جشن جوړوي، نو هغوی پاچا او د هغه مامورين نشه کوي، په داسې
حال کې چې پاچا د هغو خلکو سره يوځای کېږي چې په هغه باندې ملنډې وهي. ۶ د هغوی
زړونه لکه د تنور په شان د خپلو دسيسو له امله سوځېږي. هغوی ټوله شپه په خپل قهر کې بې لمبو
سوځي او په سهار کې لکه د اور په شان لمبې کوي. ۷ هغوی ټول لکه د سوځوونکي تنور په
شان دي، هغوی خپل مشران وژني. د هغوی پاچاهان يو په بل پسې وژل کېږي، خو هېڅوک هم
ماته د مرستې دپاره دعا نه کوي.»

## اسراييل او نور قومونه

۸ ښتن وايي: «د اسراييلو خلک د خپل شاوخوا قومونو سره يوځای شوي دي او د هغې
ډوډۍ په شان دي چې يوازې يو مخ يې پوخ وي ۹ او په دې نه پوهېږي چې د پرديو خلکو
سره په يوځای کېدلو سره يې خپل قوت له منځه وړی دی. د هغوی ويښتان سپين شوي دي، خو
هغوی په دې نه پوهېږي چې دوی زاړه او کمزوري شوي دي. ۱۰ د اسراييلو د خلکو غرور د
هغوی په خلاف شاهدي ورکوي، خو بياهم هغوی زما يعنې د خپل ښتن خدای خواته راونه
ګرځېدل. ۱۱ د اسراييلو خلک د يوې کم‌عقلې او بې‌شعوره کوترې په شان دي. هغوی کله د مصر
نه مرسته غواړي او کله د آشور خواته منډې وهي. ۱۲ خو زه به يو جال خپور کړم او څنګه چې
هغوی ځي او راځي، نو د مرغانو په شان به يې په کې راګير کړم. لکه څنګه چې مې هغوی ته ويلي
وو، هغوی ته به د هغوی د بدو کارونو په سبب سزا ورکړم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٣ افسوس د هغوی په حال! هغوی زه پرېښې يم. هغوی به برباد شي، ځکه چې زما په وړاندې
يې سرکښي کړې ده. ما غوښتل چې هغوی وژغورم، خو هغوی ماته وفادار نه دي. ١٤ هغوی
ماته د زړه د اخلاصه دعا نه کوي، خو هغوی په کټونو باندې ژړا او انګولا کوي. کله چې هغوی د
غلو دانو او شرابو په خاطر دعا کوي، نو د کافرانو په شان خپل ځانونه غوڅوي. هغوی زما په
خلاف سرکښي کوي. ١٥ که څه هم ما د هغوی روزنه وکړه او هغوی مې قوي کړل، خو هغوی
زما په وړاندې دسيسه جوړه کړه. ١٦ هغوی زما يعنې څښتن تعالی په ځای بې‌وسه بتانو ته
رجوع کوي. هغوی د کږې ليندې په شان بې‌اعتباره دي. د هغوی مشران زما په خلاف د غرور نه
ډکې خبرې کوي، نو هغوی به په توره باندې مړه شي او مصريان به هغوی پورې خاندي.»

## څښتن اسراييل د بت‌پرستۍ په خاطر غندي

٨ ١ څښتن وايي: «د خطر سرنۍ ووهئ! دښمنان لکه د عقاب په شان زما په وطن باندې
غوټې وهي! ځکه چې زما خلکو هغه لوظ مات کړی دی چې د هغوی سره مې کړی ؤ او زما د
قوانينو نه يې سرکښي کړې ده. ٢ که څه هم هغوی ماته خپل خدای وايي او دعوه کوي چې
مونږ اسراييليان تا پېژنو، ٣ خو هغوی هغه لوظ چې ښه دی رد کړی دی، نو په دې سبب د
هغوی دښمنان به په هغوی پسې وي.

٤ زما خلکو پاچاهان وټاکل، خو هغوی دا کار په خپله خوښه وکړ. هغوی مشران وټاکل، خو
پرته زما له رضا څخه. هغوی د خپلې تباهۍ په خاطر سپين زر او سره زر واخيستل او بتان يې
ورڅخه جوړ کړل. ٥ ای سامريې، زه د هغه طلايي خوسي نه کرکه کوم چې ستا د خلکو له خوا
يې عبادت کيږي. زه په هغوی باندې په غضب يم. هغوی به ترڅو پورې د خپلو ګناهونو څخه لاس
نه اخلي؟ ٦ د اسراييليانو يو کسبګر دا بت جوړ کړی دی او دا بيخي خدای نه دی! هغه طلايي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوسی چې په سامره کې ورته عبادت کيږي، هغه به ټوټې ټوټې شي.

۷ کله چې هغوی باد کري، نو توفان به وريبي! د غلو دانو بوټي چې وږي ونه لري، نو د هغو نه
به اوړه پيدا نه شي. خو که پيدا هم شي، هغه به د پرديو خلکو خوراک شي. ۸ اسراييليان په
نورو قومونو کې خواره واره شوي دي. هغوی د مات لوښي په شان دي چې کار ورځخه نه اخيستل
کيږي. ۹ هغوی د ځنګلي خرو په شان سرګردانه ګرځي او د آشور نه مرسته غواړي. اسراييليانو
د ځانونو د ساتنې دپاره نور قومونه په بيه اخيستي دي. ۱۰ خو اوس زه اسراييليان سره راټولوم
چې سزا ورته ورکړم. کله چې د آشور پاچا او مامورين په هغوی باندې ظلم وکړي، نو هغوی به
ډېر زر په درد باندې اخته شي.

۱۱ د اسراييلو خلک چې د خپلو ګناهونو د لېرې کولو دپاره هرخومره زياتې قربانګاوې جوړوي،
په هماغه اندازه خپلو ځانونو ته د ګناه کولو ځايونه جوړوي! ۱۲ ما هغوی ته زرګونه قوانين
وليکل، خو هغوی هغه پردي وګڼل. ۱۳ هغوی ماته قرباني وړاندې کوي او د قربانيو غوښې
خوري. خو زه ښښتن د هغوی نه راضي نه يم، نو زه به د هغوی جرمونه رايادوم او د هغوی د
ګناهونو په خاطر به ورته سزا ورکوم. هغوی به بېرته مصر ته لاړ شي.

۱۴ د اسراييلو خلکو ډېرې ماڼۍګانې جوړې کړې دي، خو هغوی خپل جوړوونکی هېر کړی دی.
د يهودا خلکو ډېر قوي ښارونه جوړ کړي دي، خو زه به اور ورباندې نازل کړم چې د هغوی
ماڼۍګانې او قوي ښارونه وسوځوي.»

## هوشع اسراييلو ته د سزا ورکولو اعلان کوي

۹ ۱ ای د اسراييلو خلکو، د نورو قومونو د اخترونو د لمانځلو نه لاس واخلئ، ځکه چې تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل خدای پرېښی دی او د هغه سره مو بې‌وفايي کړې ده. تاسو بتانو ته په عبادت کولو سره په
ټولو ځايونو خپل ځانونه لکه د فاحشو په شان خرڅ کړي دي. ۲ خو اوس به نور تاسو سره په
پوره اندازه غلې دانې او شراب نه وي. ۳ د اسراييلو خلک به نور د څښتن په وطن کې پاتې نه
شي، بلکې هغوی باید بېرته مصر ته لاړ شي او په آشور کې به حرام خواړه خوري. ۴ هلته به
هغوی د دې توان نه لري چې څښتن ته د نذرانې په توګه شراب توی کړي او د هغوی په قربانيو
باندې به څښتن خوشحاله نه شي. هرڅوک چې د هغوی خواړه وخوري، هغوی به داسې ناپاکه شي
لکه څوک چې د مړي د جنازې په مراسمو کې خواړه خوري. په دې باندې به يوازې د هغوی لوږه
له منځه ځي. خو هغه خواړه باید د څښتن عبادتځای ته رانه وړل شي. ۵ نو تاسو به د اختر په
ورځو کې څه کوئ او څنګه به د څښتن اخترونه لمانځئ؟ ۶ ګورئ، که څه هم هغوی به د
تباهۍ څخه وتښتي، خو مصريان به هغوی سره راټول کړي او د ممفيس په ښار کې به يې ښخ کړي!
په هغو ځايونو کې چې د هغوی د سپينو زرو خزانې او يو وخت په کې د هغوی کورونه وو، په هغو
کې به هرزه بوټي او د اغزيو بوټي راشنه شي.

۷ اسراييلو ته د سزا ورکولو او د حساب کولو ورځ رارسېدلې ده. کله چې دا کار وشي، نو
اسراييل به ورباندې پوه شي. تاسو وايئ چې دا پيغمبر کم‌عقل دی او دا د الهام رسوونکی سړی
لېونی دی. تاسو داسې وايئ، ځکه چې ستاسو ګناهونه ډېر زيات دي. ۸ پيغمبر د خدای له خوا
د اسراييلو پهره‌دار دی. خو زه چې هرچېرته ځم، نو تاسو کوښښ کوئ چې د مرغۍ په شان مې په
دام کې راګير کړئ. حتی تر دې پورې چې د خدای په کور کې هم خلک د پيغمبر دښمنان شوي
دي. ۹ هغوی په خپلو کارونو کې داسې فاسد شوي دي، لکه څنګه چې د جبعې په ښار کې وو.
خدای به د هغوی ګناهونه رایاد کړي او د هغو په خاطر به ورته سزا ورکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسراییلو ګناه او د هغې پایله

۱۰ څښتن وايي: «کله چې ما د لومړي ځل دپاره اسراییل ولیدل، نو هغه داسې وو لکه په دښته
کې چې انګور پیدا شي. کله چې ما د لومړي ځل دپاره ستاسو نیکونه ولیدل، هغه داسې وو لکه د
موسم لومړني پاخه شوي انځران مې چې لیدلي وي. خو کله چې هغوی د فغور غره ته راغلل، نو
هغوی خپل ځانونه د بعل شرمناک بت ته وقف کړل او ډېر زر د بعل د بت په شان چې هغوی
ورسره مینه کوله، د کرکې وړ وګرځېدل. ۱۱ د اسراییلو شان او شوکت به لکه د مرغۍ په شان
والوځي او د هغوی به نور اولادونه نه پیدا کیږي، د هغوی ښځې به نورې نه امیدوارې کیږي او نه به
یې اولاد په خېټه کیږي. ۱۲ خو که د هغوی اولادونه هم پیدا شي، نو زه به یې ورڅخه واخلم او
یو به یې هم ژوندی پرې نږدم. کله چې زه دا خلک پرېږدم، نو هغوی به د ډېرو وېروونکو پېښو سره
مخ شي. ۱۳ ما لیدلي دي چې اسراییل لکه د خرما د نیالګیو په شان په ښه ځای کې کرل شوي
دي، خو هغوی باید خپل زامن جنګ ته ولیږي چې ووژل شي.»

۱۴ ای څښتنه، زه به ستا نه د دې خلکو دپاره د څه شي سوال وکړم؟ د هغوی ښځې شنډې کړه
چې ماشومان ونه زیږوي او د هغوی په سینو کې شیدې وچې کړه چې ونه شي کولای خپل
ماشومان وروزي!

## د اسراییلو په هکله د څښتن قضاوت

۱۵ څښتن وايي: «د هغوی ټوله بدکاري د جلجال په ښار کې پیل شوه. په هماغه ځای کې ما د
هغوی څخه کرکه پیل کړه. د همدې بدو عملونو په خاطر به زه هغوی د خپل وطن نه وشړم. زه به
نور د هغوی سره مینه نه کوم. د هغوی ټولو مشرانو زما په وړاندې سرکښي کړې ده. ۱۶ د
اسراییلو خلک د هغه بوټي په شان دي چې ریښې یې وچې شوې وي او مېوه نه نیسي. د هغوی به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولادونه نه پیدا کیږي، خو که پیدا هم شي، زه به د هغوی ګران اولادونه ووژنم.»

١٧ زما خدای به هغوی پرېږدي، ځکه چې هغوی د هغه خبرو ته غوږ ونه نیوه. نو هغوی به د
نورو قومونو په منځ کې سرګردانه ګرځي.

# ١٠

١ د اسراییلو قوم د انګورو د یو داسې تاک په شان ؤ چې د انګورو نه ډک ؤ. هرڅومره
چې د هغه مېوه زیاتېدله، نو هماغومره ډېر د بتانو د قربانۍ ځایونه به یې جوړول. هرڅومره چې د
هغوی د ځمکې حاصلات زیاتېدل، نو هغوی د تیږو مذهبي ستنې ښایسته کولې. ٢ د هغو خلکو
چې زړونه یې د چل او غولونې نه ډک دي، نو اوس به د خپلو ګناهونو له امله ځوریږي. خدای به د
هغوی د قربانۍ ځایونه وران کړي او د هغوی د تیږو ستنې به له منځه یوسي.

٣ بیا به دا خلک ووایي: «مونږ پاچا نه لرو، ځکه چې مونږ د ښښتن څخه ونه وېرېدلو. خو که
مونږ پاچا درلودلی، نو هغه به زمونږ دپاره څه کولای شول؟» ٤ د اسراییلو پاچاهان هسې
خبرې کوي او د دروغو وعدې کوي او بې‌ګټې تړونونه کوي. انصاف په بې‌انصافۍ باندې بدل شوی
دی لکه په قلبه شوي پټي کې چې زهرجن بوټي راشنه شي.

٥ کوم خلک چې په سامرې کې اوسیږي، هغوی به ووېرېږي او په بیت‌آون کې د سرو زرو د
خوسي د ورکېدلو په خاطر به ویر وکړي. خلک او د بت کاهنان به په دې خاطر چې د هغه شان او
شوکت به له منځه لاړ شي، نو هغوی به ورباندې ژړا او انګولا کوي. ٦ حتی هغه بت به هم
آشور ته یووړل شي چې لوی امپراتور ته به د باج په توګه ورکړل شي. د اسراییلو خلک به په هغه
بت باندې د تکیه کولو په سبب وشرمیږي او خجالته به شي. ٧ د سامرې پاچا به داسې یووړل
شي لکه د اوبو په سر باندې چې د لرګي یوه کوچنۍ ټوټه روانه وي. ٨ د آون هغه سیمه‌ییز
عبادتځایونه به له منځه لاړ شي چې د اسراییلو خلکو به کې ګناه کوله. د هغوی په قربانګاوو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به اغزي او هرزه بوټي راشنه شي. خلک به غرونو ته چیغې وهي چې موږ پټ کړئ! او غونډیو ته به چیغې وهي چې په موږ باندې راولوېږئ!

## ښبتن د اسراییلو په هکله د قضاوت کولو اعلان کوي

۹ ښبتن وايي: «ای د اسراییلو خلکو، د هماغه وخت نه چې تاسو په جبعه کې ګناه کړې ده، تراوسه پورې زما په وړاندې د ګناه کولو نه لاس نه اخلئ. ایا دا مناسبه نه وه چې د جبعې په بدکاره خلکو باندې حمله وشوه؟ ۱۰ کله چې زه وغواړم، هغوی ته به سزا ورکړم. نور قومونه به د هغوی په وړاندې سره یوځای شي او هغوی به د خپلو زیاتو ګناهونو له امله په زنځیرونو وتړل شي.

۱۱ اسراییل په یو وخت کې د ښه روزل شوي خوسي په شان ؤ چې د غلو دانو غوبل کولو ته به خوشحاله ؤ. خو زه به د هغه په ښایسته غاړه باندې جغ ږدم او د سخت کار دپاره به یې تیاروم. ما یهودا دې ته مجبوره کړ چې یوې کش کړي او یعقوب مې مجبور کړ چې ماله کش کړي. ۱۲ نو د عدالت تخم وکرئ، ترڅو د تلپاتې مینې حاصل ورڅخه وربېئ. د خپلو زړونو سخته ځمکه نرمه کړئ، ځکه چې اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې د ښبتن په لټه کې اوسئ، ترڅو زه راشم او د عدالت باران په تاسو باندې ووروم. ۱۳ خو تاسو د بدکارۍ تخم وکاره او د بې‌انصافۍ حاصل مو وربېه. تاسو د خپلو دروغو د حاصل مېوه وخوړله.

ځکه چې تاسو په خپل قوت او په خپلو ډېرو جنګیالیو باندې تکیه وکړه، ۱۴ نو ستاسو په خلکو باندې به د جنګ اوازونه راشي او ستاسو ټولې قوي کلاګانې به ورانې شي. دا به د هغې ورځې په شان وي لکه څنګه چې شلمان پاچا چې د بیت‌اربیل ښار په جنګ کې وران کړ او د هغوی میندې او ماشومان به په ځمکه راوغورځېږي او مړه به شي. ۱۵ نو ای د بیت‌ییل خلکو، ستاسو سره به هم د هغو ډېرو بدو عملونو له امله چې کړي مو دي، همداسې کار کیږي. څنګه چې جنګ پیل شي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د اسراییلو پاچا به په بشپړه توګه تباه شي.»

## د اسراییلو د سرکښه قوم سره د خدای مینه

# ۱۱

۱ ښښتن وايي:

اسراییل چې کله ؤ ماشوم

راباندې ګران ؤ لکه د زوی په شان

او ما د مصر نه راوغوښت هغه

۲ خو څومره چې ما کاوه اواز هغه ته

لیرې کېده هومره زما نه هغه

بعل بتانو ته کوله قرباني زما قوم

سوځولې خوشبويي هغوی بتانو ته

۳ خو بیاهم زه وم چې مې زده کړ

اسراییل ته د ګرځېدلو چل

هغه مې ونیوه د لاسونو څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هغه پوه نه شو چې ما پام کاوه

هغه باندې

۴ ما د مینې او محبت په رسۍ

راکش کړل هغوی خپل ځان ته

ما رااوچت کړ جغ چې هغوی وکړي خوراک

زه ورټیټ شومه هغوی ته او خواړه مې ورکړل

۵ هغوی باید مصر ته ورستانه نه شي، خو آشوریان به په هغوی باندې حکومت کوي، ځکه چې
هغوی نه غواړي چې بېرته زما خواته راوګرځي. ۶ جنګ به لکه د توفان په شان د هغوی
ښارونو ته راځي او د ښار دروازې به ماتې کړي. جنګ به زما خلک برباد کړي، ځکه چې هغوی به
د خپلو بدو دسیسو له امله له منځه لاړ شي. ۷ زما خلکو پرېکړه کړې ده چې د هغه خدای په
خاطر ما رد کړي چې دوی فکر کوي هغه ډېر قوي دی، خو هغه مرسته نه شي کولی.

۸ ای اسراییله، څنګه کولی شم چې تا پرېږدم؟

څنګه کولای شم چې دې تسلیم کړم چاته؟

کله کولای شم زه چې کړم تباه تا لکه ښار د ادمه؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا تا سره کار وکړم په شان د زبوییم د ښار؟

زړه مې نه غواړي چې وکړمه زه داسې کار

ځکه چې ستا سره کړمه ډېره زیاته مینه

٩ د خپل سخت قهر په وخت کې

به زه درنه کړم سزا

زه به بیا نه کړم اسراییل تباه

ځکه چې خدای یمه، انسان نه یمه

سپېڅلی ذات یم او تا سره مل یمه زه

زه به رانه شم په غضب تا ته

١٠ کله چې زه په خپلو خلکو باندې لکه د زمري په شان وغورېږم، نو زما غوره شوی قوم به
ولړزېږي. هغوی به زما پیروي وکړي. هغوی به په وېره د لوېدیځې خوا نه ماته راشي. ١١ هغوی
به له وېرې د مصر نه د مرغانو په شان والوزي او د آشور نه به د کوترو په شان راشي. هغوی به
بېرته خپلو کورونو ته راولم.

١٢ د اسراییلو خلک په دروغو او چل سره زما څخه راتاو شوي دي او د یهودا خلک لا تراوسه
پورې زما په وړاندې چې وفادار او سپېڅلی خدای یم، سرکښي کوي. ما څښتن داسې ویلي دي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ۱ ښښتن وايي: «هغه کارونه چې د اسراييلو خلک يې د سهار نه تر ماښامه پورې کوي،
هغه بې‌ګټې او خرابوونکي کارونه دي. په هغوی کې خيانت او ظلم زياتې زياتيږي. هغوی د
آشوريانو سره تړونونه کوي او مصريانو ته د مرستې په خاطر د زيتون تېل ورکوي.»

## ښښتن اسراييل ملامتوي

۲ ښښتن د يهودا خلک ملامتوي او اسراييلو ته د هغه د خلکو د عملونو په سبب سزا ورکوي. د
هغوی څخه به د خپلو کارونو بدل واخيستل شي. ۳ د هغوی نيکه يعقوب د خپل غبرګوني ورور
عيسو سره چې دواړه لا د مور په خېټه کې وو، جګړه وکړه. کله چې يعقوب لوی شو، هغه د خدای
سره هم جنګ وکړ. ۴ هغه د فرښتې سره غېږه ونيوله او په هغې باندې بريالی شو. هغه وژړل او
د برکت دپاره يې سوال وکړ. په بيت‌ييل کې خدای زمونږ د نيکه يعقوب سره مخامخ شو او د هغه
سره يې خبرې وکړې. ۵ ښښتن هغه مطلق قادر خدای دی چې د هغه په نوم باندې عبادت
کيږي. ۶ نو اوس ای د يعقوب اولادې، په خپل خدای باندې توکل کوئ او د هغه خواته
راوګرځئ. وفادار او عادل اوسئ او په صبر سره خپل خدای ته انتظار کوئ چې هغه څه کوي.

## د قضاوت په هکله نورې خبرې

۷ خو ښښتن وايي: «د اسراييلو خلک هغه سوداګران دي چې د غلطو ترازوګانو څخه کار اخلي
او دا خوښوي چې د خلکو سره ټګي وکړي. ۸ هغوی په غرور سره وايي: ‹مونږ شتمن يو او د
ښه قسمت خاوندان يو. هيڅوک مونږ په دې نه شي ملامتولی چې مونږ په بې‌ايمانی سره دولتمن
شوي يو.› ۹ خو زه ستاسو ښښتن خدای يم چې تاسو يې د مصر نه راوويستلئ. زه به تاسو
مجبور کړم چې يوځل بيا په خېمو کې واوسېږئ، لکه څنګه چې تاسو په دښته کې اوسېدلئ او
ستاسو سره مې ليدنه وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ما د پیغمبرانو سره خبرې وکړې، دا زه وم چې هغوی ته مې ډېرې رویاګانې ورکړې او د
پیغمبرانو په وسیله مې خپلو خلکو ته په مثالونو کې خبرداری ورکړ. ۱۱ خو بیاهم هغوی د جلعاد
په ښار کې د بتانو عبادت کوي او هرڅوک چې د هغوی عبادت کوي، هغه به تباه شي. د جلجال په
ښار کې غویان قرباني کېدل، نو هلته چې کوم د قربانۍ ځایونه دي هغه به په پټیو کې د تیږو په
ډېریو باندې بدل شي.»

۱۲ زمونږ نیکه یعقوب سوریې ته وتښتېد. هلته د ښځې د پیدا کولو دپاره مجبور ؤ چې کار وکړي
او پسونه وڅروي. ۱۳ څښتن یو پیغمبر ولېږه چې د اسراییلو خلک په مصر کې د غلامۍ نه
خلاص کړي او په هغوی باندې پام وکړي. ۱۴ د اسراییلو خلکو څښتن ډېر سخت په قهر کړ.
هغوی د خپلو جرمونو له امله د مرګ لایق دي. نو څښتن به هغوی ته د خپل سپکاوي په خاطر
سزا ورکړي.

## د اسراییلو په هکله وروستنۍ قضاوت

# ۱۳

۱ په تېر وخت کې کله چې د افرایم قبیلې خبرې کولې، نو د اسراییلو نورې قبیلې به
لړزېدلې، هغوی به افرایم ته د درناوي په سترګه کتل. خو د افرایم خلک بعل ته په عبادت کولو سره
د ګناه د سزا لایق شول او د دې کار په سبب به هغوی مړه شي. ۲ هغوی د خپلو ځانونو دپاره
فلزي مجسمې جوړوي او د خپلو سپینو زرو څخه د خپلو لاسونو په مهارت بتان جوړوي او په دې
کار سره اوس زیاته ګناه کوي او بیا وایي: «د هغو دپاره قربانۍ وړاندې کړئ!» څوک څنګه کولای
شي چې دغه بتان چې د خوسیانو په شکل جوړ شوي دي، ښکل کړي! ۳ نو دا خلک به لکه د
سهار د لړو او دوپ په شان ورک شي او لکه د پرخې په شان چې سهار وختي له منځه ځي. هغوی
به د هغو بوسو په شان وي چې باد یې له درمند څخه وړي او د هغه لوګي په شان چې د سوري نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وځي.

۴ ښبښتن وايي: «زه ستاسو هماغه ښبښتن خدای يم چې د مصر نه يې راوويستلئ. پرته زما نه
بل خدای مه منئ. زه ستاسو يوازېنی ژغورونکی يم. ۵ هغه زه وم چې په وچه دښته کې مې په
تاسو باندې پام کاوه. ۶ خو کله چې ما تاسو ته خواړه درکړل او تاسو ماړه شوئ، نو بيا مغروره
شوئ او زه مو هېر کړم. ۷ نو زه به په تاسو باندې لکه د زمري په شان حمله وکړم. د پړانګ په
شان به ستاسو په لاره کې په کمين کې کښېنم. ۸ زه به تاسو باندې د هغې اېږې په شان چې
بچي يې غلا شوي وي، حمله وکړم او ستاسو سينه به څيرې کړم. تاسو به لکه د زمري په شان
وخورم او د ځنګلي حيوان په شان به مو ټوټې ټوټې کړم.

۹ ای د اسراييلو خلکو! زه به تاسو تباه کړم، نو بيا څوک کولای شي ستاسو سره مرسته وکړي؟
۱۰ اوس ستاسو پاچا چېرته دی چې په خپلو ټولو ښارونو کې تاسو وژغوري؟ او ستاسو حاکمان
چېرته دي چې تاسو به غوښتل او ويل به مو چې مونږ ته پاچا او مامورين راکړه؟ ۱۱ ما په خپل
قهر کې تاسو ته پاچاهان درکړل او د خپل غضب په وخت کې مې بېرته درڅخه واخيستل.

۱۲ د اسراييلو ګناهونه او بدکارۍ ثبت شوي دي او هغه ليکنې خوندي ساتل شوې دي. ۱۳
اسراييلو ته د ژوندي پاتې کېدلو دپاره موقع شته، خو هغوی دومره بې‌عقله دي چې ګټه ورڅخه نه
اخلي، هغوی د هغه ماشوم په شان دي چې د زېږېدلو په حال کې وي او نه غواړي چې د مور د
خېټې نه راووځي.

۱۴ ايا زه به هغوی د قبر څخه ونه ژغورم او نه به يې د مرګ د پنجو څخه خلاصوم؟ ای مرګه،
په هغوی باندې وبا راوله! ای د مړو دنيا، خپله تباهي دې راوله! زه به په دې خلکو باندې نور رحم
نه کوم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ که افرایم د نورو قبیلو څخه ډېر نېکمرغه هم شي، زه به تود ختیځ باد نازل کړم او هغه به د
هغوی چینې وچې او څاګانې به یې له منځه یوسي. هغه باد به د هغوی ټول قیمتي شیان له ځان
سره یوسي. ۱۶ سامریه باید د هغې سرکښۍ له امله چې زما په وړاندې یې کوي، سزا وزغمي. د
هغې خلک به په جنګ کې مړه شي، ماشومان به په ځمکه راوغورځېږي او مړه به شي او د
امیدوارو ښځو خېټې به وشکېږي.»

## هوشع اسراییلو ته بلنه ورکوي چې څښتن ته راوګرځي

۱۴ ۱ ای د اسراییلو خلکو، خپل څښتن خدای ته راوګرځئ، ځکه چې ستاسو ګناه ستاسو د
رالوېدلو سبب شوې ده. ۲ څښتن ته راوګرځئ او د خپلو ګناهونو اقرار وکړئ او هغه ته ووایئ:
«زمونږ ټول ګناهونه وبخښه او زمونږ دعا قبوله کړه، ترڅو مونږ ستا د ثنا او صفت سره تا ته قرباني
وړاندې کړو. ۳ آشوریان مونږ هېڅکله ژغورلی نه شي او جنګي اسونه زمونږ ساتنه کولای نه
شي. مونږ به نور هېڅکله په خپلو لاسونو جوړ شویو بتانو ته ونه وایو چې هغه زمونږ خدایان دي.
ای څښتنه، یوازې ته یئ چې په یتیمانو باندې رحم کوې.»

## د اسراییلو دپاره د بخښنې وعده

۴ څښتن وایي:

زه به ختمه کړم د هغوی بې‌وفایي

او شفا به ورکړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د زړه د اخلاصه به کړم مینه له هغوی سره

او زه به هغوی باندې نور قهر نه کوم

۵ زه به یم د اسراییلو دپاره

لکه د پرخې په شان

هغوی به وغوړیږي

لکه ګلانو د سوسن په شان

هغوی به ولري کلکې ریښې

لکه د لبنان د سبر ونو په شان

۶ د هغوی ځانګې به خپرې شي

او وي به ښایسته لکه زیتون د ونو په شان

وي خوشبویي به د دوی

د لبنان د سبر ونو په شان

۷ هغوی به بیا تېروي ژوند زما د سیوري لاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی کري به غلې

او وبه غوړيږي د انګور تاک په شان

شي مشهور به هغوی لکه شراب د لبنان

٨ ای اسراييلو، تاسو به کار نه لرئ

نور د بتانو سره

هغه زه يم چې قبلوم به دعاګانې ستاسو

او زه به کومه پام په تاسو باندې

زه سرپناه به يم ستاسو دپاره د تل شنې ونې په شان

ستاسو مېوه راځي زما له خوا نه

## اخرنی نتيجه

٩ کوم خلک چې هوښيار دي، نو هغوی دې په دې خبرو باندې پوه شي او کوم خلک چې
عقلمند دي، هغو ته دې په خپلو زړونو کې ځای ورکړي. د څښتن لارې سمې دي او صادقان
خلک به په هغو باندې روان وي، خو سرکښه خلک به په دې لارو راولويږي.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.